دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

PROPERTY OF ACKU

درس قرآن

کله چې الله او دهغه رسول د کوم کار په هکله پریکړه وکړي نو هیڅ مؤمن سړی او مؤمنه ښځه حق نه لري چې د خپل هماغه کار په هکله اختیارمن اوسي، او هر چا چې له الله او رسول نه یې سر وغړاوه، نو په رښتیا چې په ښکاره یې لیار ورکه کړه.
(سورة الاحزاب: ٣٦)

درس حدیث

از ابو ایوب رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که رمضان را روزه گرفته و به تعقیب آن شش روز از شوال را به آن پیوست کند، مانند آن است که همیشه روزه داشته است. (ریاض الصالحین)

شهادت خلورم کال، ۲۲ مه گڼه، پرله پسې ۱۷۳ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د وږی ۲۲ مه د۱۴۳۳ هـ ق د شوال آلمکرم ۲۵ مه د۲۰۱۲ م د سپتمبر ۱۲ مه

د بگرام زندان د انتقال په اړه د افغانستان او امریکا اختلافات

افغان حکومت ټینګار کوي، چې د دې زندان له سپارلو وروسته امریکایان د هیڅ راز توقیف حق نه لري؛ خو امریکایي چارواکي بیا وایي، چې دوی به د کسانو نیولو او توقیف کولو ته دوام ورکړي

کابل، رسنۍ:
افغان حکومت ته د بگرام زندان له سپارلو سره سره امریکایي چارواکي وایي، چې دوی لا هم د کسانو د نیولو او توقیف کولو واک لري.
خو افغان حکومت بیا د مارچ له موافقې وروسته د امریکایي ځواکونو لخوا د افغانانو له نیولو او توقیف کولو سره مخالفت څرگندوي او دا کار د شوې موافقې په خلاف بولي.
د بشر د حقوقو دا وکیل وایي، چې له افغان او امریکایي چارواکو سره له خبرو داسې ښکاري؛ چې دوی د بگرام زندان د انتقال او په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له خوا د کسانو د نیولو او توقیف کولو د راتلونکي په اړه جلا برداشتونه لري.
دا زندان په مارچ میاشت کې د دواړو خواو ترمنځ د شوی موافقې له مخې د تیرې دوشنبې په ورځ افغان حکومت ته وسپارل شو.
افغان حکومت ټینګار کوي، چې د دې زندان له سپارلو وروسته امریکایان د هیڅ راز توقیف حق نه لري؛ خو امریکایي چارواکي بیا وایي، ...

پاتې ۴ مخ

پر بگرام هوایي ډگر برید کې ۴ افغان سرتېري وژل شوي او یوه چورلکه سوځېدلې

کابل، رسنۍ:
ناټو وایي چې د بگرام په هوایي اډه د دولت د وسله والو مخالفانو په برید کې تېره شپه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو څلور غړي ووژل شول.

د ناټو ترمشری لاندې نړیوالو ځواکونو نن وویل تراوسه ورته څرگنده شوې نه ده چې افغان امنیتي ځواکونه په هاوان او که راکټ وژل شوي دي.
د پروان ولایت د امنیې قومندان جنرال اکرم بیگزاد وویل چې له نامالوم لوري د بگرام پر هوایي اډه راکټ ویشتل شوی دی. ده وویل چې په وژل شویو کسانو کې دوه تنه د افغانستان د استخباراتو کارکوونکي شامل دي.
د یوه بل راپور له مخې په دې برید کې د ناټو یوه هیلي کوپټره سخته زیانمن شوې او دوه تنه عمله یې ژوبله شوې ده.

جان الن:

تعهد ما در قبال افغانستان تغییر ناپذیر است

کابل، رسانه ها:
قوماندان عمومی نیروهای بین المللی در افغانستان یک بار دیگر روی مبارزهء جدی با تروریزم در این کشور تاکید می کند.
به گفتهء قوماندان عمومی نیروهای بین المللی در افغانستان، هدف از آمدن جامعهء جهانی به این کشور مبارزه با تروریزم بود و تلاش می کنند تا این ماموریت را موفقانه به پایان برسانند.
جنرال جان آلن به روز سه شنبه در مراسم یاد بود از قربانیان حملات یازدهم سپتمبر در کابل، تروریزم را یک هشدار جدی جهانی خواند و گفت که برای ریشه کن ساختن آن هنوز هم مبارزهء جهانی ادامه دارد.
آقای آلن یک بار دیگر اطمینان داد که نمی گذارند افغانستان باز هم به پناه گاه تروریستان مبدل گردد.
"کاری را که ما آغاز کرده ایم باید به پایان برسانیم و نگذاریم که افغانستان یک بار دیگر

بقیه در صفحه ۴

ناټو تر اوسه د افغان هوایي ځواک جوړیدو ته کومه پاملرنه نه ده کړې

هغه څو چورلکي چې ناټو موږ ته اخیستی دېرې یې داسې زړې دي چې په نورو هېوادونو کې له کاره لویدلې نو بیا یې د افغان هوایي ځواک ته ورکړي دي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د هوایي ځواکونو قومندانان وایي ، ناټو ددې هوایي ځواک د جوړونې لپاره تر اوسه د اړتیا وړ برخو په جوړونه کې کوم د کار وړ گام نه دی اخیستی .
د ولسمشر کرزي له دفتره یوه خپره شوې خبرپانه وایي چې په دې اړه د هوایي ځواک قو[illegible]ن جنرال عبدالوهاب وردگ په هغه غونډه کې ولسمشر کرزي ته شکایت وکړ چې د ملي اردو د لوړو پوړو جنرالانو او قومندانانو سره یې جوړه کړې وه.

پاتې ۴ مخ

اعلان فاتحه

عکس از آرشیف خانه جهاد افغانستان

رئیس و هیئت رهبری حزب اسلامی افغانستان در حالیکه تأثرات عمیق خود را نسبت وفات ناگهانی قهرمان مجاهدان راستین و آموزگار عالیقدر و پیشتاز نهضت اسلامی افغانستان داکتر محمد حنیف سابق رئیس کمیته نظامی حزب اسلامی افغانستان و رئیس حوزه جنوب غرب ابراز مینماید، مراتب تسلیت خود را نسبت به این سانحه دردناک و جبران ناپذیر به خانواده مرحومی و همه خانواده بزرگ هجرت و جهاد بعرض رسانیده از الله متعال برای آن مرحومی رحمت بیکران و بهشت فردوس استدعا نموده به همه دردمندان جهاد و نهضت بزرگ اسلامی صبر جزیل مسئلت می نماید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

بدینوسیله به اطلاع رسانیده می شود که فاتحه این ستارهٔ تابناک جهاد یوم پنجشنبه ۲۳ سنبله ۱۳۹۱ از ساعت ۳۰ : ۱ الی ۳۰ : ۳ بعداز ظهر درمسجد شیرشاه سوری واقع کارته ٤ برگزار می گردد.

روحش شاد و یادش مستدام باد

از طرف رئیس و هیئت رهبری حزب اسلامی افغانستان

خانواده و اقارب مرحومی، بزرگان، محاسن سفیدان و قوماندانان جهادی ولایت کندهار

مختصر سوانح مرحوم داکتر محمد حنیف

رئیس اسبق کمیته نظامی حزب اسلامی افغانستان

بقلم دوکتور محمد انور

داکتر محمد یحیی فرزند عبدالحکیم آغا که زادگاهش قریه ادینه ولسوالی ارغستان ولایت کندهار می باشد پنجاه و پنج سال پیش از امروز راهش به جهان پرآشوب ما باز گردید و پا به عرصه وجود گذاشت. دوره کودکی را تاصنف نهم درمکتب محمد نیکه در ولسوالی ارغستان سپری نمود. کودکی مؤقر، کوشا، مؤدب در آغوش خانواده ای متدین در پهلوی دروس مکتب علوم دینی را بخوبی فرا گرفت و جوانی گشت مسؤول، متدین و آگاه. زمانی صنف دهم را شامل لیسه عالی ابن سینا گردید فضای سیاسی کشور را آشفته از اختناق ایجاد شده توسط نظام دیکتاتوری وقت یافت او که در زادگاهش نیز از ...

بقیه در صفحه سوم

برگزاری شانزدهمین کنفرانس سران غیر متعهدها در تهران

اعزامی • صفحه دوم

تر څو به له واقعیت نه سترگې پټوو؟!

محمد خلیل

واقعیت هر وخت واقعیت وي نه یې څوک بدلولې شي او نه یې هم د بدلولو توان لري، یو ضدي، ناپوه او سرتنبه انسان به څه وخت لپاره تربنه سترگې پټې کړي مگر بالاخر په ډېر ذلت سره دهغه په وړاندې سر ټیټولو ته اړ کېږي خو داهغه وخت وي چې هر څه یې له لاسه ورکړي وي، ناکام او نامراده وي، په جال کې د راگیرې شوی مرغی په څېر به ترپېگي وهي خو د وتلو لاره به نه لري، د ښکاري رحم او کرم ته به گوري، چې څه ورسره کوي حلالوي یې او که د خپل کور دانگړ د ښکلا لپاره یې په پنجره کې ساتي.
تاریخ گواه ده چې نن ورځ په انساني تاریخ کې هم د مرغانو او نورو ځنگلي ځناورو د ښکار ترڅنگ د انسانانو د ښکار لوبه هم روانه ده، د یو هېواد وگړي د بل هېواد، او د یو نسل وگړي د بل نسل وگړي ښکار کوي دهغوی پر شتمنیو گېده اچوي، د خپلو شومو اغراضو د ترلاسه کولو لپاره یې استعمالوي او خپل اقتصادي او نورې نفساني غوښتنې ورباندې پوره کوي.
هغه وگړي د دښمنانو له دغه استحصالي او غلامي ژوند نه بچ پاتې کېږي چې هر وخت هوښیار، بیدار اوحساس وي د دښمن هرحرکت، خبرې او منصوبې ته متوجه اودهغه دمقابلې اودفاع لپاره یې بشپړ چمتووالې نیولې وي.

(پاتې دریم مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

بې ګناه افغانان به تر څو د برلاسي د مفکورې قرباني کېږي؟!

د شنبې په ورځ د شهید اونۍ په مراسمو کې د وینا پر مهال ښاغلي فهیم د دولت له مخالفو وسله والو سره د خبرو اترو او روغې جوړې پر ضرورت زور واچاو او ویې ویل چې په افغانستان کې د امنیت تأمین لپاره اړینه ده چې له مخالفینو سره د سولې خبرې اترې پرمخ لاړې شي، خو هغه د پخوا په څیر یو ځل بیا په دې خبره ټینګار وکړ چې دا خبرې اترې باید هله وشي چې دولت د جنګ په ډګر کې پر مخالفینو برلاسې وي.

که اصل واقعیت ته ځیر شو نو تر اوسه پورې چې د دولت او مخالفینو ترمنځ د سولې خبرې پرمخ نه ځي او بې نتیجې پاتې شوې دي ددې تر شا د دواړو لوریو لخوا د برلاسي مفکوره لوی لاس لري، د امریکا په مشرۍ ناټو ځواکونه هم پر مخالفینو د برلاسي مفکوره په ذهن کې لري او دولت هم، خو په مقابل کې مخالفین هم همداسې مفکوره لري چې د جګړې په ډګر کې دوی برلاسي وي تر څو وکولي شي هر یو خپل خپل شرایط ورباندې ومني او زیات امتیازات ترلاسه کړي. دغو مفکورو ته په کتلو سره ویلی شوو چې د دواړو لوریو ترمنځ خبرې اترې د افغانستان د مسلمان ولس او د هېواد د لوړو اهدافو د تحقق او د ګټو د خوندي توب لپاره نه، بلکې په اقتدار کې د زیاتو امتیازاتو د ترلاسه کولو لپاره ترسره کېږي که نه نو د سولې او روغې جوړې په خبرو کې د اوچت لاس درلودلو مفکوره له بدنیتۍ او د یو بل دلاندې کولو پرته بله څه معنی لرلای شي. د سولې او روغې جوړې په خبرو کې د اوچت لاس درلودلو مفکوره اصلاً د جنګ جګړې د جاري ساتلو په معنی ده او ددې خبرې څرګند پیغام ورکول دي چې تر څو پورې په جګړه کې برلاسي نه وي ترلاسه شوې تر هغې د سولې خبرې نشي کېدلې، آیا لدېنه به دا ښه نه وي چې دواړه لورې ډانګ پیلې ووایي چې زموږ جګړه به د یو بل د بشپړ محوې او ماتې تر سرحده روانه وي او هله به بندېږي چې یو لورې د تسلیمۍ لاسونه اوچت کړي او خپله وسله پر زمکه کېږدي.

که چېرته دولت او مخالفین واقعاً د زړه له تل نه پخپلو کې روغه جوړه غواړي او د خپل اقتدار او امتیاز پر ځای د افغانستان د مظلوم ولس او د هېواد مجموعي ګټو ته لومړیتوب ورکوي نو بیا په جګړه کې د برلاسي کېدو مفکوره او ددې خبرې خوب لیدل چې له مقابل لورې نه زیات امتیازات ترلاسه کړي شي د سولې او روغې جوړې پر حقایقو او اصولو ملنډې وهل دي، آخر دا جنګ ځپلي او کړېدلي ولس به تر څو د دواړو لوریو د برلاسي کېدو د مفکورې قرباني کېږي؟ !

تراوسه نه دولت او بهرني ځواکونه د مخالفینو په ټکولو برلاسي شوي او نه هم مخالفین توانیدلي چې د جګړې په میدان کې برلاسي شي او خپلو موخو ته ورسېږي، نو ځکه دولت او مخالفینو ته پکار دي چې واقعیتونه درک، او تیرې ناکامې تجربې تکراری نه کړي بلکې دې اصل ته غاړه کېږدي چې د دواړو لوریو حقیقي برلاسي او بری په دې کې ده چې د یو بل د کمزورۍ کولو د مفکورې پر ځای د یو بل د زغملو او په ګډه د ورورۍ او یووالي په فضا کې د خپل هېواد د استحکام او ځوریدلی ولس د آرام ژوند مفکوره په سر کې پیدا کړي، که داسې ونه کړي نو قوي امکان دی چې دواړه لوري پر یو بل د برلاسي په غلط فکر کې د تل لپاره د ناکامۍ او ذلت په کنده کې وغورځېږي او په منځ کې د افغانستان د خاورې او ولس دښمنان چې له پخوانه په کمین کې ناست دي برلاسې شي، بیا به لاسونه مروړي خو د افسوس اسویلي پرته به نور څه نشي کولې.

پر یو بل د برلاسي کېدو مفکوره پالل اصلاً دېته لاره هوارول دي چې د افغانانو مادي او معنوی ځواک ختم او دښمن ته په لوی لاس فرصت ورکړی شي چې په ډېره آسانۍ سره پر افغانستان ګېډه واچوي، هغوی به باداران وي او افغانان به د غلامۍ زنځیرونه په غاړه ګرځوي.

دولت او مخالفینو چې پخپلو کې له یو بل سره دنه پخلا کېدو له ضد نه ډک کوم دریځ نیولی او د یو بل د له منځه وړلو کوم هوډ یې کړی دی دا د افغانستان د مسلمان ولس د ارمانونو په خلاف اقدام دی، که چېرته دولت او مخالفین دواړه خپل ځانونه واقعاً د افغانستان د مجاهد او غیرتي ولس خواخوږي او خیرخواه بولي نو بیا ددې خبرې ورته هېڅ جواز نشته چې پر یو بل د برلاسي مفکوره په ذهن کې وپالي بلکې ددې خبرې اړتیا ده چې پخپلو ځانو کې د تیریدنې او بخښنې ماده پیدا کړي، یو بل ته د ورورۍ او یووالي لاسونه ورکړي او د افغانستان د سلامتیا او د ځوریدلي ولس د هوسا او آرام ژوند لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي.

برگزاری شانزدهمین کنفرانس سران غیر متعهدها در تهران

اعزامی

شانزدهمین نشست سران کشورهای غیر متعهد (غیر منسلک) اخیراً در شهر تهران برگزار گردید و ازین تاریخ ببعد ریاست دوره ای این نهضت برای سه سال آینده به جمهوری اسلامی ایران تعلق گرفت. ریاست دوره ای قبلی غیر متعهدها بعهدهٔ جمهوری عربی مصر بود که محمد مرسی رئیس جمهور تازه منتخب شدهٔ آن کشور با اشتراک درین کنفرانس، ریاست نهضت را به رئیس جمهور ایران انتقال داد.

نهضت عدم انسلاک یا غیر متعهدها ۵۱ سال قبل در اولین کنفرانس در سال ۱۹۶۱ در شهر بلگراد پایتخت یوگوسلاویا بوجود آمد و پس از هر سه سال، نشست سران کشورهای غیر متعهد در یکی از مراکز عضو نهضت برگزار می گردد و تا سه سال ریاست آن بعهدهٔ رئیس جمهور و یا پادشاه کشور میزبان می باشد.

این جنبش تقریباً دو سوم کشورهای جهان را در بر می گیرد و اعضای آن اکنون به ۱۲۰ کشور می رسد. اندیشه تأسیس جنبش عدم انسلاک قبل از نشست بلگراد در سال ۱۹۵۵ در شهر باندونگ اندونیزیا به ابتکار سوهارتو رئیس جمهور اندونیزیا، جواهر لعل نهرو صدراعظم هند، مارشال تیتو رهبر یوگوسلاویا، جمال عبدالناصر رئیس جمهور مصر و قوام نکرومه رهبر کشور افریقایی گانا به بحث گرفته شد و پس از شور و کنکاش آنها با سران سایر دول هوا خواه نهضت (به شمول افغانستان) تصمیم بر آن شد که جنبش غیر متعهدها در اولین کنفرانس نهضت عدم انسلاک در شهر بلگراد رسماً اعلان گردد.

فلسفهء وجودی این جنبش بر می گردد به تحولات و خیزش های سیاسی زمان جنگ سرد؛ آنگاه که جهان به دو اردوگاهی شرق و غرب تقسیم شده بود و ایالات متحدهٔ امریکا و اتحاد شوروی وقت، با تحمیل دو نظام سیاسی امپریالیستی (لبرالیزم و کمونیزم) جهان را به کام خود فرو برده بودند و فرصت نفس کشیدن برای سایر دول و ملل وجود نداشت. در چنان شرایط شخصیت های سیاسی آزادی خواه که نمیخواستند ملت های شان زیر سیطره توسعه طلبانه و استکباری دو بلاک بروند، اولاً در شهر باندونگ اندونیزیا گرد هم آمده و مفکوره عدم انسلاک را شکل دادند و سپس در کنفرانس بلگراد هستهء اولی غیر متعهدها را گذاشتند و پس از آن این جنبش عملاً در جهان عرض وجود کرد.

هدف نخستین ایجاد این جنبش، عدم تعهد و دوری از جبهه گیری های دو بلاک شرق و غرب و اتحاد و همبستگی در برابر استعمار جهان دو قطبی بود، اما با انهزام و از هم پاشیدگی امپراطوری غیر متعهدها، دیگر همان شور و هیجان اولی نهضت باقی نماند و نوعی بی نیازی به قوام و گسترش این جنبش احساس گردید.

ولی ترکتازی و توسعه طلبی قطب حاکم و اشاعه مفکوره های چون نظام نوین و جهانی شدن که همه حاکی از برتری خواهی و سیطره جویی یک بلاک بر دول رو به انکشاف خصوصاً جهان سوم بود. کشورهای عضو عدم انسلاک سعی نمودند تا سردی محسوس بر شور و تحرک نهضت غیر متعهدها را زدوده و با عنوان کردن پنج اصل بنیادی جنبش چون: ۱- احترام متقابل به تمامیت ارضی و استقلال یکدیگر. ۲- احترام به برابری و منافع متقابل. ۳- عدم تجاوز به خاک و منافع همدیگر. ۴- همزیستی مسالمت آمیز. ۵- عدم دخالت در امور داخلی یکدیگر، به تداوم حیات سیاسی جنبش اقدام نمایند. علاوه بر آن شرایط سیاسی و فضای تحولات و دگرگونی ها در جهان طوری است که کشورهای غیر متعهد را وامیدارد که مصمم تر از گذشته با هم متحد و یکپارچه شوند و جلو نفوذ استعمار نوین را در کشورهای شان بگیرند. از همین رو است که امروزه اکثر کشورهای در حال توسعه عضویت این جنبش را دارند.

برگزاری کنفرانس غیر متعهدها در تهران و انتقال ریاست آن به جمهوری اسلامی ایران، در شرایطی که این کشور دوران سخت تحریم های اقتصادی را تجربه می کند و کشورهای غربی می خواهد که تهران را در انزوای سیاسی کامل قرار بدهد، یک موفقیت بزرگ برای آن کشور تلقی می شود. حضور مقامات و دیپلومات های ۱۲۰ کشور به شمول چندین رئیس جمهور دول بی طرف و گردانندگان ۲۰ سازمان بین المللی در تهران موجب گردید که مساعی غرب برای منزوی کردن تهران کمرنگ شود و مقامات ایرانی به خود ببالند که علی رغم تمامی فشارها و دسایس غرب علیه ایران، این کشور همچنان جایگاه ویژه ای در جهان دارد. علاوتاً نفس برگزاری کنفرانس غیر متعهدها در شرایط حاضر موجب می شود که نظام سلطه زیر سوال برود و پنج اصل فراموش شدهٔ نهضت عدم انسلاک بار دیگر احیا شده و سر زبان ها بیفتد که این خود موفقیت بزرگی برای جنبش به شمار می رود.

اشتراک حامد کرزی رئیس جمهور کشور ما در کنفرانس تهران، نقش ضعیف و رنگ رفتهٔ افغانستان را در نهضت غیر متعهدها تا حدی زنده کرد، زیرا چهار دهه بحران در کشور ما، تغییراتی شگرفی در سیاست خارجی افغانستان بجا گذاشت. در دورهٔ فرمانروایی داوودخان افغانستان به صورت غیر مستقیم تحت تأثیر بلاک شرق به محوریت اتحاد شوروی وقت قرار گرفت و این وضعیت با کودتای هفت ثور بیشتر تعمیق یافت و پس از تجاوز قشون سرخ به کشور ما، افغانستان عملاً به یکی از اقمار شوروی وقت تبدیل شد. البته در چنان شرایطی ادعای بی طرفی و عضویت افغانستان در جنبش بی طرف ها زیر سوال رفت و اشتراک افغانستان در کنفرانس های این جنبش به مسخره گرفته می شد. در دوران حاکمیت مجاهدین و طالبان، بنابر اشتعال جنگ های داخلی، نقش افغانستان در جنبش غیر متعهدها ضعیف و غیر مؤثر بود.

پس از کنفرانس بن نقش افغانستان در سیاست جهانی بارزتر گردید و حضور نظامی ائتلاف بین المللی و ناتو به خاطر کمک به امنیت افغانستان و اهدای کمک های سخاوتمندانه جامعه بین المللی خصوصاً ایالات متحده امریکا بخاطر بازسازی و انکشاف اقتصادی کشور ما، حضور افغانستان در کنفرانس غیر متعهدها را غیر مؤثر ساخت.

اکنون که افغانستان در آستانهٔ خروج نیروهای خارجی قرار دارد و دولت تا دو سال دیگر مسؤولیت تأمین امنیت و دفاع از استقلال و تمامیت ارضی کشور را به عهده می گیرد، نقش افغانستان در جنبش غیر متعهدها پررنگ تر می گردد که شاهد خوب این مدعا این سخنان رئیس جمهور در کنفرانس تهران است که فرمود: افغانستان از تمامی طرح های جنبش غیر متعهدها بخاطر ایجاد تغییر در ساختار و طرز کار شورای امنیت و اسامبله عمومی ملل متحد و سایر پیشنهادات نهضت به نفع دول عقب مانده و رو به انکشاف در عرصهٔ بین المللی حمایت می کنند.

مختصر سوانح مرحوم داکتر محمد حنیف

رئیس اسبق کمیته نظامی حزب اسلامی افغانستان

(ادامهء از صفحه اول)

...جبهه گیری های فکری میان نهضت بزرگ اسلامی (جوانان رزمنده مسلمان) و حرکت سریع تبهکار تحت حمایه کمونیزم جهانی آگاهی داشت و حنیف مایل به حق بود در لیسه عالی ابن سینا این صف را سنگر مبارزات فکری خود انتخاب کرد و در تنظیم شاگردان آن لیسه در صف مرصوص جوانان رزمنده مسلمان نقش فعالی را ایفا نمود. داکتر صاحب که از شاگردان ممتاز لیسه عالی ابن سینا بود در سال ۱۳۵۵ به پوهنحی طب پوهنتون کابل با برازندگی در امتحان کانکور تحصیلات عالی راه یافت با درخشندگی در مجال دروس پوهنحی طب و مبارزه فکری در راه اسلام شهره همقطاران درسی و مورد حسادت جدی رقبای فکری (مزدوران کمونیزم جهانی) قرار گرفت و به سال سوم پوهنحی طب رسیده بود که رژیم محمد داؤد توسط نوکران کمونیزم ماسکو سقوط کرد و سیاه ترین تاریخ ترور و اختناق سراسر افغانستان را فراگرفت. داکتر صاحب مرحوم با داشتن شهرت مبارزه اسلامی در همان روزهای اول کودتای ثور تحت تعقیب شدید مزدوران رژیم قرار گرفت و مجبور به هجرت شد.

داکتر صاحب با رسیدن به دیار هجرت روی مقاصد امنیتی به محمد حنیف ملقب گردید که این اسم تا لحظه مرگ و تا جهان باشد جزء شهرت و شخصیت او گردید.

داکتر محمد حنیف که از خانواده های روحانی منطقه و منسوب به تبار امیر المؤمنین حضرت عمر (رض) بحساب می رود خود و خانواده شان محل احترام و اعزاز همه اهالی منطقه قرار دارد، مناسب ترین شخصیت برای جلب اعتماد مردم بحساب می رفت بحیث قوماندان جهاد، جهاد مسلحانه را در جبهه ولسوالی معروف کندهار آغاز کرد و از همانجا فعالیت های جهادی را علیه رژیم دست نشانده الحادی تره کی و امین در ولایات کندهار، زابل، اروزگان و هلمند تنظیم می کرد و برازنده ترین افراد نهضت بزرگ اسلامی تحت قوماندہ و رهنمائی شان در این جبهات می رزمیدند.

داکتر صاحب در سال ۱۳٦۰ از طرف رهبری حزب اسلامی بحیث رئیس حوزه جنوب غرب تعیین گردید که کارنامه های شان در رونق بخشیدن فعالیت های تنظیمی و جهادی حزب اسلامی در حوزه جنوب غرب از جمله افتخارات جهاد بحساب می رود.

داکتر محمد حنیف در ماه عقرب سال ۱۳٦٤ به حیث رئیس کمیته نظامی حزب مؤظف گردید و شوری مرکزی حزب اسلامی در اجلاس خزان ۱۳٦٦ دوباره وظیفه شانرا بحیث رئیس کمیته نظامی تائید نمود. باور دارم شهرت منظم بودن جبهات حزب اسلامی تا حد زیادی مرهون تلاشهای مسؤولانه و مخلصانه این مجاهد عالیمقام می باشد.

داکتر صاحب مدتی را در حزب اسلامی بحیث رئیس امور مهاجرین ایفای وظیفه نموده که نه تنها همکاران و مامورین این کمیته ازبرقرار نمودن نظم و دسپلین خاص شان خاطرات نیک دارند که تصرفات عادلانه شان مهاجرین را با وجود محدودیت امکانات همیشه راضی نگهداشته است.

داکتر صاحب از چند پارچگی تنظیم های جهادی و خاصتاً تصرفات جداگانه و مستقلانه هر یک برای آوردن نظام در افغانستان به شدت رنج می کشیدند که با آغاز جنگ های داخلی میان تنظیم های جهادی در کابل برای اطفای این آتش و تأمین وحدت و همدلی در میان آنها با مجموعه ای مخلص از هم سنگران مجاهدش و علمای عالم اسلام زحمات زیادی را متقبل گردیدند و در میان راکت ها و آتش توپخانه و بمباردمان ها فاصله میان رهبران جهادی را با همه خطراتش می پیمود اما بزرگی توطئه دشمنان اسلام و افغانستان اسلامی، آزاد، آباد، مرفه و مستقل مانع آن بود که این تلاش ها به پیروزی رسد و نتیجه ای دلخواه بران مرتب گردد.

داکترصاحب برای رسیدن به قناعت خاطر در سالهای اخیر لیسه خصوصی ایرا بنام علامه سید جمال الدین افغان در محیط هجرت برای رسیدگی به تربیه نسل جوان باز نمود که یکی از مکاتب نمونه در مجال تعلیم و تربیه در محیط هجرت بشمار می رود. در طی این سالها هزاران شاگرد را چنان پرورش داد که موفقانه به پوهنتونهای کشور میزبان و داخل وطن راه یافتند به درگاه رب العالمین با تضرع استدعا می نمائیم تربیه والای اسلامی ایکه این شاگردان از لیسه تحت رعایت داکتر صاحب حاصل نموده اند آنها را موفق به خدماتی بنماید که بتواند خیر جاریه برای داکتر صاحب مرحومی باقی ماند.

داکترصاحب محمد حنیف که اخیراً برای دیدار دوستان گوئی به رسم خدا حافظی با آنها به کابل آمده بودند در راه برگشت به پشاور در اثر حمله قلبی به رفیق اعلی پیوستند و همه برادران همسنگر، دوستان و مخلصان خود را در درد و تلاش آرمان رسیدن به یک افغانستان اسلامی، مرفه، آزاد و آبرومند تنها گذاشتند.

روح شان شاد، بهشت برین جایگاه شان و راه شان مستدام باد

(انا لله و انا الیه راجعون)

عکس از آرشیف خانه جهاد افغانستان

تجربه

دوکتور عبدالوهاب "حسام"

شپږمه برخه
(تېر پسې)

شپاړسمه تجربه: الله پاک په سورت زمر کې فرمایي: ژباړه: زما هغو بندګانو ته زیرې ور کړه، کوم چې ډېرې خبرې اوري خو د ښو متابعت کوي همدغه کسان د عقل او فکر خاوندان دي. او په یو مشهور أثر کې راغلي چې: له زانګو نه تر لحده علم و لټوه. زده کړه په هر وخت او له هر چانه په کار او ضروري ده.

د تعلیم او تربیې وزارت سره په یو تربیوي پروګرام کې د یو ګروپ استاذانو سره په سفر ولاړم، سفر لږ اوږد شو، د ګڼون کوونکو تر منځ ځنې جنجالونه رامنځ ته شول، یوه ورځ راته چا و ویل: چې د ښځینه استاذانو تر منځ - اګر چې ډېرې لږې وی- څه جنجال راغلی،په دي ښځینه استاذانو کې د تعلیمات اسلامي د بخش یوه استاذه وه (عیان) یې تخلص و، دی استاذی څو مهم صفتونه لرل: اول صفت یې داو چې سنګینه وه، حرکات او سکنات یې ډېر موزون وو، دوهم: ډېر ښکلي متشرع کالي به یې هر وخت په ځان و، دریم دی استاذی به په منظم ډول هر لمونځ په خپل وخت کولو او څلورم دا چې د هیڅ چا په هکله به د بل چا سره بحث نه کاوه، نو ما په دي موخه چې د دي مسألي په هکله یو څه معلومات تر لاسه کړم د استاذي (عیان) سره تماس و نیو او له هغي نه مې پوښتنه و کړه هغي راته په دري ژبه داسي و ویل چې پښتو ژباړه یې ده: أستاد ! (هر څه چې قات کړی کمېږي مګر خبره چې قات کړی زیاتیږي) خبره تیره شوه او مشکل ساده و حل شو، نه یواځې د استاذ عیانی خبرې زما په ذهن کې ځاي و نیو، بلکې په ژبه مي کښیناستی هر وخت به مې له ځانه سره تکراروله، یوه ورځ مې دا خبره د خپل کور له خلکو سره شریکه کړه هغوي هم راسره و منله چې ډېره مهمه خبره ده که څوک پرې عمل و کړي ډیری مشکلات به یې حل شي.

اجتماعي ژوند د مشکلاتو نه خالي نه وي، ځکه بادونه د کشتی په خوښه نه الوزي، ځنې خلک ډېر واړه مشکلات د عناد، بغض او کینې له امله لویوي، مګر پوه سړی هغه دی چې لوی لوی مشکلات د نرمی، صبر او حوصلی په واسطه واړه کړي، او له منځه یې یوسي، سړی باید په دي پوه شي چې د مشکلاتو د رامنځ ته کیدو پر مهال څه باید و کړو؟

مونږ وخت نا وخت په کور کې په خپلو منځونو او یا هم د خپلو ماشومانو په منځ کې د مشکلاتو د رامنځ ته کیدو پر مهال له دي وینا) هر څه چې قات کړي کمیږي مګر خبره چې قات کړي زیاتیږي(کار اخلو، عملي جامه ور اغوندو نو الحمد لله هیڅ مشکل نه لرو، ټول مشکلات مو حل وي. څو ورځي مخکې مې یو کتاب لوستلو ګورم چې د ابو درداء په څیر لوی لوی خلک خپلې میرمنې ته وایې: اي زما میرمنې ! که زه کله په غوسه کیدم نو ته مي خوشاله وه، او که ته مي کله غوسه لیدلې، نو زه به دي خوشالوم، که داسي و نه کړو وخت نه شو تیرولی؛ ځکه چې قهر او غوسه مینه ختموي.

اولسمه تجربه: فتوا: که څه هم أفغانستان د درې لسیزو راهیسې د هر قسمه فتوو ټاټوبی دی، دلته هر بې علمه د فتوا په ور کولو ځان عالم ګڼي، شرعي فتواګاني چې بې علمه خلک یې ور کوي، شرعه ترې د شرعی په خاوند سره پنا غواړي، سیاسي او تنظیمي فتواګاني، چې په کې د نظر د مخالف وژنه مباح ګڼل کیږي، او د دي وضعیت منفي أثر په عامو خلکو کې هم خپل کار کړی، په کور کلي کې چې په خپلو منځونو کې بحث او یا د غوا، غویي، پوله او یا ماشومانو په سر کوم جنجال راشي، نو دستي یو د بل اسلام ته د شک په سترګه ګوری، او د جانب مقابل په سر د ګوزار کولو په وخت د ناره تکبیر الله اکبر چیغې هم وهي، ته به وایې: چې کوم غټ کافر یې را ګیر کړی جهاد پرې کوي.

د هجرت په ټاټوبي کې یوه ورځ سهر د وخته معهد ته تلم، نوی ځوان وم، احساسات مې ډېر په زور کې وو، خو د مقابلې پر مهال لږ ور خطا کیدم، کتابونه مې په څنګ کې نیولي وو، ګورم چې یو زوړ سړی لکه د سپین چرګ یو موټی د سرک په هغه بله غاړه په خاورو کې ډېر بې تابه ستړی او ستومانه ناست دی، په دي ځاي کې یو بازارګی او جومات هم وو، خو دا سړی د بازار نه وتلی پر داسي ځاي ناست و چې د خلکو تګ راتګ په کې کم و، سړي ته مې ور وکتل او د تیریدو په حال کې وم چې دي سړي راته غږ و کړ، و یې ویل: ای بچیه دلته راشه، زه لږ وویریدم، خپل مزل مي تیز کړ د دی ویرې په حالت کې مې بیرته هغه ته را وکتل ډېر نا امیده مې ولید، بیا مي ځان ته و ویل: کیداي شي دا سپین ږیری سړی ضرورت لري، څه مشکل به لري نو که زه ترې داسي تیر شم او د ده د حاله ځان خبر نه کړم او مرسته ور سره و نه کړم دا به څه توره وي، بیرته راستون شوم او سړي ته ورغلم: بابا خیر دی دلته څه کوي؟ څه خدمت و کړم؟ سړي و ویل کښېنه، کښیناستم، ده و ویل: بچیه ما په خپل ژوند کې لمونځ نه دی کړی، کلیمه مي هم نه ده ویلې او زده مې هم نه ده، اوس چې خبري کوم ژا مې خوږیږي هیڅ مي نه زده کیږي، نو که زه مړ شم له ما سره به الله پاک څه معامله کوي؟ ما له ځانه سره و ویل: دي سړی زما سره زما کتابونه لیدلي ګومان یې کړی چې ګویا زه به ښه ملا یم، زه چون کشر وم تعلیم مي هم دومره نه و، خپلو احساساتو او د جهاد نظر او جذبی راته ویل: ورته و وایه چې جهنم دي ځاي دی او ځمکه به دې هم قبول نه کړي، خو فکر مي و کړ چې دا سړی د الله بنده دی، زما خو نه دی، هغه به ور سره حساب کوي، زما ور سره څه کار نشته، ما ته په کار دي چې داسي خبره ورته و کړم چې یو امید ورته پیدا شي. ما ورته و ویل: بابا الله مهربانه ذات دی مایوسه کیږه مه، خو یو خبره درته کوم، هغه و ویل: و کړه، ما ورته و ویل: دا جومات خو ګوري ده و ویل: هو، ما ورته و ویل: دلته ورځه او خلکو چې څه کول هماغسي ته هم کوه، خلکو ته ګوره اودس کوه او ملا پسي ودریږه او د هغه متابعت کوه، الله پاک به ستا دا عمل قبول کړي او ښښنه به درته و کړي هغه و منله دوعا یې و کړه او زه ترې ولاړم.

(نور بیا)

تر څو به له واقعیت نه سترګي پټوو؟!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

موږ پخپلو سترګو وینو چې په انساني ټولنه کې د انسانانو د فزیکي او عقیدوي ښکار د ځنګل له ځناورو څخه زیات دی، ځکه خو په مجموعي توګه د نړۍ اتیا سلنه بودیجه په دفاعي چارو کې مصرفیږي، هغه ولسونه او وګړي لدې ښکار نه محفوظ دي چې واقعیتونه یې منلي دي او په وړاندې یې بشپړ چمتووالي نیولي دی خو ډېر افسوس چې زموږ افغانان ددغه اصل او واقعیت له درک او احساس څخه عاجز پاتې شوي دي. د دوست او دښمن په پیژندلو کې یې هر وخت دوکه خوړلې هر وخت د دوستي او وروري په نوم غولول شوي، پرون هم ورسره دوکه شوې وه او نن هم ورسره دوکه کیږي. په داسي حال کې چې دوستي او وروري تل د دوه لوریو له خوا ترسره کیږي، نه د یوې لورې له خوا، دېته هیڅ دوستي نه دی ویلي او نه دا د دوستی په تعریف کې راځي چې یو لورې دې هر وخت د قرباني ګډورې وي او بل لورې دې د خپل ولس او خاورې په آبادی کې بوخت وي، یو دې جنګ ته هڅول کیږي او بل دې په آرامه زړه له ټولې نړۍ سره د دوستۍ اړیکې پرمخ وړي، یو دې د بم او باروتو په لوخړو کې د ژوند له هر ډول نعمتونو څخه محروم وي او بل دی هره میاشت د پرمختګ او کامیابي تجربې کوي یو دې بې ډاکتره، بې روغتونه او بې درمله له رنځه کړېږي او د مرګ کومې ته به ولوېږي خو بل دې د ژوند له ټولو نعمتونو څخه خوندونه اخلي، یو دې د باداری پر څوکی ناست قومانده ور کوي او بل دې د غلام په څېر په چوپه خوله دهغې تعمیل کوي، که هرې خبرې ته یې د تسلیمی غاړه کېږدي نو ښه دوست او که ورسره دلایل ووایي او یا هم د نه ترسره کولو اراده وکړي نو بیایې قبرستان ته ولېږي. موږ افغانانو ته د تاریخ په اوږدو کې ډېرو دوستانو د دوستی تر خوږ عنوان لاندې دوکه راکړه، زموږ پر هېواد، عزت، ابرو او مال یې یرغلونه وکړل، د لکونو په حساب یې مړه او ټپي کړو، له ډېرو ترخو ناخوالو سره یې مخامخ کړو خو عبرت مو وانخست، دهغوی مکاري او منافقت مو ونه پیژند. څنګه چې پرون یې زموږ [illegible] استحصال لپاره متې رانغښتي وې نن یې [illegible] ـتي دي. پرون یې هم ښه وزیښلو او [illegible] ـو هم زېښي، ۲۴ ساعته زموږ په خاوره کې جګړه روانه، او ټول مادي او معنوي شتمني مو تباه کېږي، قومي او ملي شیرازه مو کمزورې او استعدادونه مو ضایع کېږي، دا هر څه ځکه کېږي چې واقعیتونه مو له پامه غورځولي، ځمکنیو حقایقو څخه مو سترګې پټې کړي او خپل اصلي ګټې ته مو شا کړې ده، اوس هم وخت لرو چې خپلې غلطیانې جبران کړو، د نړۍ له نورو ولسونو څخه پند واخلو، د قانون احترام او له خپل ولس او خاورې سره مینه وکړو، څنګه چې د نړۍ نور ولسونه د خپلو ولسونو ګټې پالي همداسې موږ یې هم وپالو، له هر هغې کړنې څخه په کلکه ډډه وکړو چې د هېواد او ولس په تاوان وي او هر هغه کار ته په صداقت او کلک عزم ملا وتړو چې زموږ خاورې او ملت ګټې پکې خوندي وي.

الله تعالی هر چاته د خپل عمل او کسب بدله ور کوي، د بدو کړنو بدله بده او د ښه کړنو بدله ښه ده، هر څوک د خپل خپل کرلي فصل میوه اخلي که چا اغزي کرلي وي آغزې او که چا ګلونه کرلي وي ګلونه ترلاسه کوي، داسې هرګز نه شي کېدلې چې د ازغي کرونکی دې ګلونه ترلاسه کړي او په مفتو کې د ښه ژوند خاوندان شي.

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

د هېواد طبيعي زېرمې د افغانستان د بېلابېلو ډلو ترمنځ د نفاق لامل

نیویارک ټایمز:
نیویارک ټایمز ورځپاڼې د افغانستان په اړه په یوه راپور کې چې په خپله پرونۍ ګڼه کې یې خپور کړی، لیکلي چې د هېواد طبیعي زېرمو د افغانستان د بېلابېلې ډلو ترمنځ نفاق اچولی دي.
ورځپاڼې د مطلب په پیل کې لیکلي دي، که په افغانستان کې د یوې خوشاله راتلونکې لپاره کومه لاره وي، نو د دې لارې ډېره برخه به تر ځمکې لاندې وي، چې د تریلیونونو ډالرو په ارزښت سره زر، تېل، قیمتي فلزات، مس، لیتیم او نورې طبیعي زېرمې په کې دي.
نیویارک ټایمز زیاتوي، له دې خاورې څخه چې په وینو کې لت پت ده د دې شتمنۍ د اېستلو امکان د افغانستان خلک هیله من کړي چې دا هېواد به نور نو پر خپلو پښو ودرېږي.
خو ورځپاڼه زیاتوي، دې شتمنیو ځینو کسانو ته د تورو خوبونو الهام هم ورکړی.
ورځپاڼه د چارواکو او کارپوهانو له قوله لیکي چې وایي، فساد، تشدد او دسیسو دې طبیعي زېرمو ته ستر ګواښ رامنځته کړی او د افغان حکومت کمزورۍ او د خطر په وړاندې د هغه ماتېدونکې حالت یې ننداري ته وړاندې کړی.
د لندن چاپ ډېلي ټلګراف ورځپاڼې په خپله پرونۍ ګڼه کې د کابل- کندهار د لویې لارې په اړه یو مطلب خپور کړی، لیکي یې دي چې دا لویه لاره باید په نوي افغانستان کې د پرمختګ سمبول وای، خو په داسې حال کې چې ناټو په راتلونکو دوو کلونو کې له افغانستانه د خپلو محاربوي ځواکونو اېستلو ته تیاري نیسي، دا لاره چې په ډېر زیات لګښت جوړه شوه د ناسمو اقداماتو په یوه سمبول بدله شوې ده.
ورځپاڼه زیاتوي، د کابل- کندهار لویه لار بښې، چې په افغانستان کې چارې څنګه په ناسمه لاره پرمخ ولاړې.
خپرونه وړاندې لیکي، دا لاره د دې پرځای چې د پلازمېنې او دوهم لوی ښار یعني کندهار ترمینځ د مصوون او ډاډمن تګ راتګ امکان برابر کړي، د مرګ په لویه لاره بدله شوه.
د ټلګراف په وینا دا لویه لار چې په ۲۰۰۳ کال کې د خاصو مراسمو په ترځ کې پرانیستل شوه د جګړه ځپلي افغانستان د اقتصادي بنیاد د بیارغونې د یوه اساسي عنصر په توګه ستایل کېده، خو نن ورځ د هغې د قیر تازه پوړ د سولې لپاره د افغانانو د هیلو په څېر په بمونو له مینځه تللی او دا ۳۰۰ مایله (څه کم ۵۰۰ کیلومتره) سړک

AFP

د مرمیو په یوه ګالرۍ بدل شوی دی او په اوږد کې یې د وسله والو طالبانو په بریدونو کې د ویجاړو موټرو کباړ پراته دي.
ورځپاڼه زیاتوي، افغانان چې په سختیو کې رالوی شوي دي، پر ته له دې چې هره ورځ په بسونو کې پر دې لاره تګ راتګ ته زړه ښه کړي، بله لار نلري خو بهرنیان او هغوی چې په وس یې پوره دي، د دې لارې پرځای چې عملاً د سفر لپاره ناممکنه ده د الوتکو په ذریعه کندهار ته سفر کوي.

د بګرام زندان د انتقال په اړه ...

چې دوی به د کسانو نیولو او توقیف کولو ته دوام ورکړي.
کریس روګرز له ازادي راډیو په یوه مرکه کې دا هغه مهمې پوښتنې وبللې؛ چې لا هم حل شوي نه دي او دا به په راتلونکو کلونو کې د دواړو خواو ترمنځ په بنیادي مسایلو بدل شي.
"له افغان او امریکایي چارواکو سره زموږ له خبرو اوس دا واضح شوی، چې دوی د بګرام زندان د انتقال د مفهوم او دا، چې دا به په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له خوا د کسانو د نیولو او توقیف کولو د واک لپاره څه ډول مفهوم ولري جلا نظرونه لري.
دا پوښتنې حل نه شوې او دا به په راتلونکو څو کلونو کې د دواړو خواو ترمنځ په بنیادي مسایلو بدل شي."
روګرز وویل، چې امریکایانو په دې موافقه کې دا حق هم ځان ته خوندي ساتلی؛ چې د دوی د موافقې پرته له دې زندان څخه څوک نه شي خوشې کېدای.
خو افغان ولسمشر په یوه اعلامیه کې ویلي، چې دوی به ټول هغه کسان خوشې کړي؛ چې بې ګناه په دې زندان کې ساتل کېدل، البته کوم کسان، چې ګناهکار دي، د اعلامیې له مخې د افغانستان د قوانینو په رڼا کې به سزا ووینې.
د دې زندان د انتقال په اړه یوه بله نا حل شوې مسأله د بهرنیو بندیانو ده، چې د امریکایي زندانیانو له خوا نیول شوي او په بګرام کې ساتل کېږي.
که څه هم دغه بندیان د بګرام د انتقال په موافقه لیک کې نه دي شامل؛ خو افغان حکومت د هغو بندیانو په اړه ژوره اندېښنه څرګنده کړې؛ چې د مارچ میاشتې له موافقې وروسته نیول شوي دي.
د ولسمشر کرزي ویاند ایمل فیضي له ازادۍ راډیو سره په خبرو کې د امریکایي ځواکونو له خوا دغه توقیفونه؛ چې شمیر یې کابو اوو سوو کسانو ته رسیږي، له شوې موافقې سره په ټکر کې وبلل.
ځینې نورې دولتي سرچینې بیا وایي، چې افغان ولسمشر د بګرام زندان له ورسپارلو دوه ورځې مخکې په کابل کې د امریکا له سفیر او د بهرنیو ځواکونو له قومندان سره د لیدنې په مهال دا توقیفونه غیر قانوني وبلل.
د ورکړل شویو معلوماتو له مخې په دې لیدنه کې خبره ان تر لفظي شخړې پورې هم رسیدلې وه؛ خو د دوشنبې په ورځ د امریکا د دفاع وزیر له ولسمشر کرزي سره په خبرو کې په دې ستونزې خبرې وکړې.
د پنټاګون یو ویاند وویل، هیله ده، چې دواړه لورې به ډېر ژر د موجوده اختلافاتو د حل په اړه یوې موافقې ته ورسیږي.
د بګرام زندان په افغانستان کې د امریکایانو تر ولکې لاندې تر ټولو ستر زندان وو؛ چې په کې له دریو زرو زیات بندیان ساتل کېدل او د انتقال پروسه یې په شپږو میاشتو کې بشپړه شوه.

تعهد ما در قبال افغانستان ...

به پناه گاه امن تروریستان مبدل شود.
مردم افغانستان نیز می خواهند به خاطر ارزش های آزادی قربانی داده و برای یک آینده‌ء درخشان به پیش بروند.
تمرکز ما روی آینده افغانستان است و یازده سال پیش تعهد کرده بودیم و امروز همان تعهد ما مستحکم و تغییر ناپذیر است."
یازده سال پیش از امروز برج های مرکز تجارت جهانی در شهر نیویارک و ساختمان وزارت دفاع ایالات متحده در شهر واشنگتن مورد حملات تروریستی قرار گرفتند.
در این حملات سازمان یافته تروریستان سه طیاره را با این ساختمان ها تصادم دادند.
به اساس گزارش ها در نتیجه‌ء این حملات حدود سه هزار تن جان های شان را از دست دادند.
امریکا شبکه‌ء القاعده را متهم به انجام این حملات نمود و در ماه اکتوبر سال ۲۰۰۱ میلادی برای از بین بردن این شبکه سربازان امریکایی و ناتو به افغانستان آمدند.
جنرال جان آلن قوماندان عمومی نیروهای بین المللی در افغانستان می گوید، در این مدت دست های زیاد در این کشور داشتند:
" افغانستان در حال بیرون شدن از تاریکی است.
در سال های گذشته ما به طور مشترک تفاوت های قابل ملاحظه را به میان آوردیم.
امروز بخش اعظم تمام عملیات ها به رهبری افغان ها راه اندازی می گردند و نیروهای افغان از مردم افغانستان حفاظت می کنند.
دختران شجاعانه به مکاتب می روند و بیرق این کشور در بسیاری از مناطق به اهتزار در آمد که در سال های گذشته در آن محلات نبوده. ما یک دموکراسی جوان را در افغانستان می بینیم."
آقای آلن همچنان تاکید می کند که جامعه‌ء جهانی و دولت افغانستان نگذارند تا قربانی های چند سال گذشته در این کشور از بین بروند.
هر چند نیروهای بین المللی از به وجود آمدن پیشرفت های چشم‌گیر در این سال ها در افغانستان سخن می زنند، اما به باور برخی از آگاهان افغان هنوز هم مشکلات زیاد سیاسی، امنیتی و اقتصادی در این کشور موجود اند.
از سوی هم مخالفان مسلح به خصوص طالبان در برخی از ولایت های افغانستان دوباره تقویت شده و ماموریت جامعه‌ء جهانی را در این کشور با مشکلات جدی روبرو ساخته اند.

ناټو تر اوسه د افغان هوايي ...

دا دویمه داسې غونډه وه چې په کې ولسمشر کرزي د ملي اردو له لوړو پوړو چارواکو سره بحثونه وکړل. د ارګ چارواکي وايي چې دا ډول غونډې به دوام وکړي.
د ولسمشر د ویندوی د دفتر د افغانستان د هوايي ځواک د قومندان تورن جنرال عبدالوهاب وردګ له خولې وايي، چې دوی د یوې پیاوړې هوايي ځواک د لرلو لپاره، ترانسپورتي، ملاتړو، څارګرو، بمبارګرو او راکټ ویشتونکیو الوتکیو ته اړتیا لري، همدارنګه دافع هوا او د رادار سیستم ورته پکار دی چې د قومندان وردګ په وینا ناټو تر اوسه پورې په دې برخه کې هیڅ ریښتینی ګام نه دی اخیستی.
د ولسمشر د ویندوی له دفتر خپره شوې خبرپاڼه زیاتوي، په دې اړه له بحث وروسته پریکړه وشوه چې حکومت به د افغان هوايي ځواک د هغو اړتیاوو د پوره کولو لپاره بېړني تدابیر ونیسي چې د ناټو له خوا نه دي پوره شوې.
د یادونې وړ ده چې د امریکا متحده ایالات او متحدین یې ادعا کوي چې د افغان ملي پوځ او همدارنګه ددې پوځ د هوايي ځواک په جوړونه کې یې ډېر پرمختګ کړی دی.
یو شمیر د هوايي ځواک قومندانانو تر دې مخه شکایت کړی و او ویلي یې وو هغه څو چورلکې چې ناټو دوی ته اخیستي ډېرې یې داسې زړې دي چې په نورو هیوادونو کې له کاره لویدلې نو بیا یې د افغان هوايي ځواک ته ورکړي دي.
څارونکي وايي په داسې حال کې چې ناټو له افغانستان څخه وځي او امنیتي چارې افغان امنیتي ځواکونو ته سپاري نو هوايي ځواک د افغان امنیتي ځواکونو لپاره حیاتي ارزښت لري او باید ورغول شي.
اوس څرګنده نه ده چې که ناټو افغان هوايي ځواک نه جوړي، د افغان حکومت سږه خپله د خپل هوايي ځواک د جوړوني لپاره کومې لارې چارې شته چې د ولسمشر کرزي دفتر وايي حکومت به عاجل تدابیر ونیسي.

پوتین: ناتو در مبارزه با مواد مخدر در افغانستان، ناکام شده است



کابل، رسانه ها:
ولادیمیر پوتین، رییس جمهور روسیه می گوید که نیروهای ناتو در مبارزه با مواد مخدر در افغانستان نا کام مانده اند.
او افزایش تولید و قاچاق مواد مخدر در افغانستان را تهدید مشترک به کشورهای منطقه و جهان خوانده گفت که از بین بردن تولید مواد مخدر، نیازمند مبارزه جدی است.
ولادیمیر پوتین می گوید که تولید مواد مخدر در افغانستان نسبت به سال گذشته (۱۳۹۰) ۶۰ درصد افزایش یافته است.
با وجود سرازیر شدن میلیون ها دالر در بخش مبارزه با مواد مخدر هنوز هم بیشترین بخش مواد مخدر جهان در افغانستان تولید می شود.
اخیرا کشت و قاچاق مواد مخدر در افغانستان افزایش چشم گیر یافته که نگرانی شماری از مقام های دولتی را نیز به همراه داشته است.
در همین حال پوتین می گوید که تولید مواد مخدر در افغانستان نسبت به سال گذشته (۱۳۹۰) ۶۰ درصد افزایش یافته است. رییس جمهور روسیه می گوید که سالانه بیش از ۲۰ درصد مواد مخدر تولید افغانستان به روسیه قاچاق می شود.
به گفته او سال گذشته، ۷۰ تن هیروئین و ۵۶ تن تریاک تولید افغانستان به روسیه وارد شده بود.
مقام های افغانی همواره تاکید کرده اند که افزایش کشت و قاچاق مواد مخدر، صدمات جبران ناپذیر به صلح و ثبات این کشور می زند.
پیشتر محمد کریم خلیلی معاون دوم ریاست جمهوری، در محفل تجلیل از روز جهانی مبارزه با مواد مخدر گفت که با تاجران مواد مخدر، باید برخورد قاطع و جدی صورت گیرد.
ولادیمیر پوتین رییس جمهور روسیه تاکید کرد که افغانستان نیازمند سیاست شفاف اقتصادی است که کشورهای عضو ناتو هیچ توجه در این زمینه نکرده اند.
رییس جمهور روسیه گفت: "وضعیت اقتصادی مردم افغانستان بسیار بد است و در صورت ادامه آن، بیشتر مردم این کشور به صفوف مخالفان مسلح دولت می پیوندند."
او تاکید کرد که عواید حاصل از تولید و قاچاق مواد مخدر، برای تمویل گروه های تروریستی و جنایات سازمان یافته به مصرف می رسد.
شماری از مقام های افغان نیز بر این باورند که بی ثباتی در افغانستان، رابطه مستقیمی با مواد مخدر و تجارت پرسود آن دارد و تا زمانی که به این معضل کلان ملی رسیدگی نشود، امنیت و ثبات در کشور تامین نمی شود.
به گفته آنان قاچاقچیان و باندهای مافیایی بین المللی در قاچاق مواد مخدر در افغانستان دست دارند.
پیشتر وزارت امور داخله از دستگیری ۱۰ تن از قاچاقچیان خارجی به جرم قاچاق مواد مخدر خبر داده بود.
باز محمد احمدی معین مبارزه با مواد مخدر وزارت داخله، گفته است که از میان ده نفر بازداشت شده ۵ تن آنان از قاچاقچیان بزرگ مواد مخدر هستند که فعالیت های جهانی داشته اند.
به گفته آقای احمدی بازداشت شدگان، شامل پنج پاکستانی، دو بریتانیایی و سه نفر دیگر ایرانی هستند که در جریان سه ماه گذشته از سوی پولیس مبارزه با مواد مخدر دستگیر شدند.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې:
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.
دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com